AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

اکبربری
۲۰۲۳/۰۵/۲۱

# ملا صاحب ته

د خوسي غوندي رمباړي وهي ماته
چي دنیا ده بي وفا او بي ثباته
خوپه خپله دي پایڅي را بډ وهلي
ځان په منډو رسوي تر هر ذکاته
غبرګي سترګي دي څلورشي په ځیرګوري
چي څوک ورنه کړي د سر سرسایه چاته
د یوي روپۍ له پاره هرڅه کاندي
پام دي نه شي له پیسو، حق او روا ته
سره او سپین دي په منګیو کي ښخ کړي
لا په نورو پسي ورک یي هري خواته
په هیڅ وخت په هیڅ زمان داسي و نه شوه
چي ته پاتي شي له عشره، له خیراته
چي داهسي وضعیتونوته دي ګورم
ملا جانه ښه غوړ ونیسه و ماته
زړه مي غواړي چي دي ږیره تاریه تار کړم
زړه مي غواړي چي دي خوله کړمه درماته


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ